مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدنعمان دوست
۲۰۲۶/۰۶/۳۰

# په کتابونو کې راټوکېدلی ګلاب

موږ چې (سره توپان) له خپل ښنه کلي پورته کړو؛ نو د هریپور په سپېره او توده دښته کې یې وغورځولو.
دلته ورځ په ورځ جلا وطنه ډېرېدل او لکې شوې خیمې د وخت په تېرېدو، په ختینو کورونو بدلیدلې.

هریپور لوی کیمپ و. دې کیمپ کې د مهاجرو ګڼ بازارونه جوړ شول. زموږ بازار د پنځلسم کیمپ په نوم و. دلته د نرۍ سړک دواړو غاړو ته دکانونه ول او په نیمايي برخه کې یې غټ د برېښنا ټرانسفرمر لګېدلی و، چې مشري یې کونړي کډوال، فضل قادر کوله.

دې اوږده او پر جم او جوشه بازار کې هرڅه ښه پریمانه پیدا کیدل؛ خو د یوه شي کمی و او هغه کتابتون یا کتاب پلورنځی و.

زه چې ماشوم وم او کله به سودا پسې همدې بازار ته په بایسکل تللم؛ نو بازار ته د غځېدلې لارې په اخر سر کې به مې نظر، د لرګیو یوې کوچینی غرفې ځانته راکاږه . همدې کې به یو سور ږیرى مشر ناست و چې فارغ وخت کې به یې مسواک واهه. فقط همدې غرفه کې د ګوتو په شمېر کتابونه ایښي ول او بس. په دې کې دوه درې د تعویذونو، یو څو د نعتونو او نور دیني کتابونه ول؛ خو دا دومره لږ ول چې که پاڼي پاڼي دې کړي وای او بیا دې په شاوخوا کورونو یوه - یوه پاڼه ویشلې وای، هم ټولو ته نه رسیده.

بازار ورځ په ورځ پراخېده؛ خو د کتابونو برخه پکې هماغسې خواره پاتې وه.
زموږ کور ته مې ورور له پېښوره تنظیمي مجلې راوړلې. پر پښتیو به یې د رهبرانو داسې تازه او نوراني عکسونه ول، لکه په افغانستان کې د بل شوي اور هیڅ تاو چې نه وي ور رسېدلی.

د مجلو د منځ پاڼې به د تنکیو شهیدانو له عکسونو ډکې وې او ګلان به ترې راتاو ول.
ځینو پاڼو کې به د وخت د حکومتي ځوانیمرګو عسکرو د خوسا شویو جسدونو عکسونه ول چې په لیدلو به یې ټوله شپه ناارامه وم .

یو نیم شعر به هم پکې و، چې له الفاظو به یې د وینو بوی تللو.
دا زما د ماشومتوب او جلا وطنی فضاء وه.

اوس چې خپل وطن کې له کتابونو ډک کتابتونونه وینم او بیا پکې ناست خلک وینم، د نړۍ بختور مخلوق راته ښکاره شي او د خپل ماشومتوب محرومیتونه مې سترګو ته نبغ ودرېږي.
هغه وخت لا خوښ شم چې ماشومان او نوي زلمیان د کتابونو په منځ کې ناست ووینم.
یو له دغو بختورو زلمیانو څخه ښاغلی **Attaullah Zawab**دی.

دی د کتابونو په منځ کې وتوکیده او له کتابونو سره رالوی شو او ژوند یې د کتابونو په منځ کې همداسې روان دی.
په کم عمر کې مطالعه به ځیني ستونزې ولرې(د ځینو مفاهیمو د درک ستونزه)؛ خو ګټې یې بیخي ډېرې دي.
مثلا:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د ماشومتوب د ذهن جذب پیاوړی وي، حافظه ښه کار کوي او بل د ماشومتوب عادتونه د پاتې ژوند ملګري وي.
عطا الله ځواب، له ماشومتوبه په مطالعې روږدی شوی او همداسې به د لوست معتاد پاتې شي.
د دې زلمي، یوه لویه ښېګڼه دا ده چې یوازې کتابونه، نه پلوري؛ بلکې لولي یې هم او هره ورځ خپله ذهني پانګه شتمنوي.

دا زلمی د لیک په هنر هم ښه پوهېږي، ولې به نه پوهیږي چې د ګنو لیکوالو لیکنې لولي او له تجربو یې ګټه اخلي.
همدا رنګه د هېواد له سترو لیکوالو سره د ناستې فرصتونه لري او فیوضات ترې حاصلوي.

که د ژوند سفر یې همداسې له کتابونو سره د ملګرتیا په بدرګې روان وي؛ نو تمه شته چې یو وخت به ستر عالم او لیکوال شي.

**د همداسې وخت په هیله!**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ